SHARIAT WEEKLY

# شريعت

اوونيزه

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

څلورم کال نه څلوېښتمه ګڼه پرله پسې (۲۳۹) چهارشنبه د۱٤۲۰هـ ق کال د ربيع الاول (۲۳)د۱۳۷۸هـ ش کال د چنګاښ دمياشتې(۱٦)د۱۹۹۹ميلادي کال دجولاي (۷)

## الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ ځکه تاسي ته، همدا (عدل) ډېر نږدې دی تقوا(پرهيزګـاري) ته.
(سورة المائدة)

## توجه!

ايمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنين کلمات مقدس را بي حرمتي بگذاريد.

روز گذشته

# در اثر آتش سوزي در دکانهاي ده افغانان هفت باب دکان طعمه حريق گرديد

در اثر آتش سوزي ايکه ساعت يازده و سي دقيقه قبل از ظهر ديروز در دوکانهـاي جوار ايستگاه ده افغانان عقب وزارت معارف در شهر کـابل بوقـوع پيوست حدود هفت باب دکـان همـوطنان ما طعـمـه حريق گرديد.

خبرنگار هفته نامه شريعت خبر داد : به گفتـه شاهدان عيني و دوکانداران ساحه مذکور آتش سوزي مذکور ناشي از حريق يك بالون گاز در يکي از دکانهـاي گاز فروشي در محل ياد شده بوقوع پيوست که با وجود رسيدن به موقع وسايط اطفائيه حـريق و تلاش پرسـونل امنيـتي و دوکانداران در امر خاموش نمودن شعله هاي آتش به تعداد هفت باب دکان همجوارآن طعمه حريق گرديد.

گرچه آتش سوزي مـذکـره للـ- الحمد تلفات جاني در بر نداشت مگر خسارات قـابل ملاحظه مالي به دکانداران منـطقه وارد گرديده که آمار دقـيق آن تا کـنون تثبيت نگرديده است .

# سيمينار علمي و تحقيقي در مقر رياست عمومي اکادمي علوم داير گرديد

شريعت: سيمينار علمي و تحقيقي از طرف بخش هاي علوم اسلامي ، علوم بشري و علوم طبيـعي ديروز در مقـر رياست عـمـومي اکـادمي علوم داير گرديد.

خبرنگار هفته نامه شريعت خبر داد : درين سيمينار بعد از آنکه آياتي چند از کلام الله مجيد قرائت گرديد محترم مولوي خليل الله فيروزي رئيس عمومي اکادمي علوم ضمن بيانيه افتتاحيه شان تدوير چنين سيمينار تحقيقي و علمي را گام ارزنده در جهت ارج گذاري به اساسات علمي و اکادميك و ارزشهاي معنوي علوم اسلامي و غيره علوم دانسته ابتکارات و تلاشهـاي دانشمندان و منسوبين اکادمي علوم را که به مشابه کانون بزرگ علمي در کـشـور از اهميت ويژه برخوردار است ستودند.

در بخش اول اين سيمينار طي مقالات علمي و تحقيقي جوانب مختلف مواد مخدر و اضرار و پيامد هاي ناگوار آن در جامعه و نظام تشريح و توضيح گرديد.

قسمت اول سيمينار بعد از ابراز نظر ها و بحث هاي علمي با دعـائيه از سـوي محترم رئيس عمومي اکادمي علوم پايان يافت . سيمينار متذکره امروز و فردا نيز ادامه دارد .

# بيش از دو صد و شصت اپارتمان در ساحه مکروريان کهنه از انرژي برق مستفيد گرديد

باشنده گان بيش از دو صدو شصت اپارتمان ديگر در ساحه مکروريان کهنه از انرژي برق مستفيد گرديدند.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : به ادامه باز سازي شبکه برق در شهر کابل از اثر سعي و تلاش کارگران و انجنيران رياست برق کـابل به همکاري اهالي منطقه و مؤسسه باز سازي دهات افغانستان برج برق نمبر ششم مکروريان کهنه با نصب يك پايه ترانسفارمر ششصد کيلو وات امپير و ساير تجهيزات آن مونتاژ و به بهره برداري سپرده شد.

محترم شير آقا زرگر زاده مسؤول عمومي برق ساحه مکروريان گفت: با نصب و مونتاژ اين ترانسفارمر مشکل بيش از دو صدو شصت اپارتمان مکروريان کهنه رفع گرديده و نيز با تامين جريان برق در اين ساحه سيستم آبرساني چاه عميق و سيستم کاناليزاسيون آن ساحه دو باره فعال ساخته شد.

موصوف افزود تا اکنون از جمله هفت برج برق کـه در دوران جنگ هاي رژيم گذشته در ساحه مکروريان کهنه تخريب شـده بودند شش برج برق با نصب ترانسفارمر ها و ساير تجهيزات دو باره باز سازي و فعال گرديده که ذريعه آن براي باشنده گان پنجاه و هشت بلاك آن

ص ٤

# ابلاغيه مقام امارت اسلامي افغانستان

از آنجاييکه استـعمال چرس از نظر دين مقدس اسلام يك عمل مردود و نا جايز ميباشد و به همين منظور امارت اسلامي افغانستان قبلاً نيز از مردم خواسته بود که از استعمال و حمل و نقل آن اجتناب ورزند.

**امارت اسلامي افغانستان يکبار ديگر به اطلاع عموم هموطنان ميرساند که سر از فردا ۲۳ ربيع الاول سالجاري در هر جائيکه چرس بدست آمد در محضر عام حريق گرديده و مجرم به محکمه شرعي سپرده ميشود.**

**آنگاه هيچ کس حق شکايت را نخواهد داشت .**

# جلسه کميسيون اقتصادي امارت اسلامي افغانستان داير گرديد

جلسه کميسيون اقتصادي امارت اسلامي افغانستان تحت رياست محترم قاري دين محمد حنيف سرپرست وزارت پلان ديروز داير گرديد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد : جلسه که به اشتراك محترم ملا محمد- عيسي اخند سرپرست وزارت آب و برق، محترم مولانا عبدالرزاق سرپرست وزارت تجارت، محترم ملا الله داد طبيب معين وزارت مخابرات، محترم مولوي عارف الله عارف معين وزارت ماليه، محترم الحاج مولوي محمد اعظم علمي معين

ص ٤

د سمنګانو والي محترم ملا عبدالجبار عمري :

# په افغانستان کي ټول ميشته مليتونه په اسلامي امارت کي برابر حقوق لري

په افغانستان کي ټول ميشته مليتونه په اسلامي امارت کي برابر حقوق لري او د دغو مليتونو ښوالي او پيوستون په هيواد کي د جهاد د لوړو ګټو او ارزښتونو د ساتني ضمانت کوي.

دغه ټکي د سمنګانو والي محترم ملا عبدالجبار عمري ددغه ولايت د خرم ښار باغ ولسـوالي د پشت بند د سيمي د مخورو سپين ږيرو او خلکو په غونډه کي پرون څرګند کړ او هغوي ته يي د اسلامي امارت د هدفونو او پروګرامونو او د اسلامي امارت د مخالفينو د توطئو او دسيسو په باب چي د خپلو شخصي ګټو د ساتني او تامين په خاطر د هيواد لوړو ګټو او د اسلامي انقلاب له هدفونو سره خيانت کوي په بشپړي توګه معلومات ورکړل . وروسته ددغي سيمي يو شمير مخورو د هغي ارامي او ولولسي فضـا له امله چي د اسـلامي اردو د مجاهدينو لخوا د دوي په سيمه کي واکمنه شويده خوښي څرګنده کړه .

# په فارياب کي له قضايي چارو سره د زياتي بلدتيا کورس پاي ته ورسيد

له قضايي چارو سره د زياتي بلدتيا په مقصد د فارياب ولايت د مرکز او ددغه ولايت د بيلا بيلو ولسواليو د نويو شاملو شويو قاضيانو او محررينو کورس چي پخوا ددغه ولايت د محکمي د رياست په تالار کي جوړ شوي و پايته ورسيد.

ددغه کورس په پاي کي چي کار يي د فـارياب ولايت د محـکمي د رئيس محتـرم الحـاج مولوي عبدالغني

٤ مخ

# بيش از هفتاد و چهار هزارو چهار صد متر مربع زمين در ولسوالي احمد خيل از ماين ها پاکسازي گرديد

طي سال روان ساحه بيش از هفتاد و چهار هزار و چهار صد متر مربع زمين در مربوطات ولسوالي احمد خيل ولايت پکتيا توسط تيم ماين پاکي اي.تي.سي پاك سازي شده و تعداد دو صدو بيست و شش حلقه ماين ضد پرسونل و ضد وسايط از ساحه متذکره کشف

ص ٤

# سيمينار توضيحي جهت آشنايي زارعين در مورد تنظيم امور املاکي و حق آبه ها

سيـمينار توضيحي جهت آشنايي زارعين در مورد تنظيم امور املاکي حق آبه ها و بود هاي جديد بخاطر استفاده موثر از زمين هاي زراعـتي ديروز در رياست زراعت ولايت جوزجان تدوير يافت .

آژانس اطلاعاتي باختر از ولايت جوزجان خبر ميدهد : در کار

ص ٤

د يوي غونډي په ترڅ کي :

# د ننګرهار ولايت د نظامي مدرسي د فارغينو سندونه وويشل شول

**د ننګرهار ولايت د لومړي لمبر قول اردو د نظامي مدرسي د لسو تنو فارغانو پګړي پرون د يوي غونډي په ترڅ کي وتړل شوي .**

د ننګرهار له ولايت نه د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ په دي غونډه کي چي د خښتي زون د تنظيمه رياست مرستيال محترم مولوي صدراعظم د ننګرهار د لومړي لمبر قول

٤ مخ

# په تيرو دوه نيمو مياشتو کي ټولي ۲٤۰ پيښي د ۳۵۵ نفرو په اتهاميت سره را منځته شويدي

شريعت د جنايي جرمونو سره د مبارزي د لوي رياست کارکوونکو په تيرو دوه نيمو مياشتو کي ټولي ۲٤۰ پيښي د ۳۵۵ نفرو په اتهاميت د کابل - پکتيا ، جوزجان، غزني، کندز، ننګرهار، او کنړ په ولايتونو کي را منځته شويدي چي ددي جملي څخه ۱٦ پيښي تر کشف لاندي دي او نوري پيښي کشف او عاملين يي د قانون منګو ته سپارل شويدي.

دا څرګندوني د کوژنيو چارو د وزارت د جنايي جرمونو سره د مبارزي لوي رئيس محترم مفتي حبيب الرحمن خوستي د شريعت اوونيزي خبريال ته د يوي مرکي په ترڅ کي کړي دي محترم مفتي حبيب الرحمن خوستي وويل چي زمونږ

٤ مخ

محترمه دکتورس رومان برومند متخصص بخش اطفال شفاخانه ميوند در مصاحبه با هفته نامه شريعت :

# در بخش اطفال شفاخانه ميوند روزانه بيش از صد مريض مبتلا به کولرا مراجعه مي نمايند

## بخش اطفال شفاخانه ميوند آمادگي براي پذيرش مريضـان کـولرا دارد

### ما خواهان کمك بيشتر مؤسسات خارجي در قسمت از بين بردن مرض کولرا ميباشيم

اخيراً خبرنگار هفته نامه شريعت راجع به مرض مهلك کولرا که درين اواخر در برخي از ولايات کشور ما شيوع يافته با محترمه دکتورس رومان «برومند» متخصص بخش اطفال شفاخانه ميوند مصاحبه يي را انجام داده است که خدمت خواننده گان

ص ٤

# د احمد خيلو په ولسوالي کي د يو جامع جومات د بنسټ ډبره کېښودل شوه

د پکتيـا ولايت د احمد خيلو په ولسوالي کي د دري زره مربع متره ځمکي په ساحه کي يو نوي جومات جوړېږي .

د باختر اطلاعـاتي آژانس خبر راکړ دغه جومات چي د احمد خيلو ولسوالي د غونډي کلي د سيمي د مسلمانو خلکو په مالي مرسته په پاخه او اساسي ډول جوړېږي په يوه وخت کي اوه سوه تنه لمونځ کوونکي پکي ځايېږي .

ددغه جومات د بنسټ د ډبري د ايښودلو په وخت کي د احمد خيلو ولسوالي چارواکي او د سيمي يو شمير مخور شخصيتونه حاضر و .

د کندهار برېښنا مرستيال محترم الحاج نظر محمد له شريعت اوونيزي سره په مرکه کي :

# په کندهار کي د سلو ترانسفارمر ستيشنونو په شاوخوا کي فعال شويدي

## تير کال مو د برېښنا له درکه ٥١۰۱٤٤۱۱۰۸٦ افغاني تر لاسه کړيدي

### د ډنډ، دامان، بابا ولي ولسواليو ته برېښنا رسيدلي،نورو برخو ته هم کاروان دي

محترمو لوستونکو!

زمونږ خبريال په کندهار کي د اوبو او برېښنا د رياست له مرستيال سره مرکه کړيده چي په ګډه يي سره لولو .

پوښتنه : په کندهار ښار کي مو په څومره لګښت څو لوي او واړه ترانسفارمرونه او څو جکشنونه فعال کړيدي ؟

ځواب : په کندهار ښار کي د کجکي قندهار د انتقالي لين 110 kw د بيا فعاله کولو سره سم د برېښنا توزيع پيل شو چي تر اوسه د سلو ترانسفارمر ستيشنونه په شاوخوا کي فعال شويدي دا ترانسفارمر ستيشنونه د مربوطو لينونو، صندوقونو د لوړو ولتاژ لينونه او ټيټي ولتاژ لينونه د ښار په مختلفو ساحو کي نصب شويدي او مسجدونو، کورونو دکانونو، فابريکو او ورکشاپونو ته د برېښنا انرژي توزيع شويده علاوتاً د نساجي نخي او پشمي فابريکي . ميرويس روغتون ، واترپمپ ستيشنونه او ځيني

**نور عمده ځايونو ته هم د برېښنا انرژي رسيدلي ده .**

**پوښتنه : د برېښنا د ضرورت وړ پرزي کيبل، او ستني مو له کومه ځايه لا سته راوړي دي ؟**

ځواب : اکثره برقي تجهيزات د پخوا څخه پاتي وه چي د هرات او هلمند، له ولايت څخه قندهار ته را انتقال شويدي او څه د ضرورت وړ سامان د اسلامي امارت په هدايت پيرل شويدي البته د يادولو وړ خبره ده چي د کجکي، قندهار او هلمند د برېښنا په پروژه کي د نړيوال غذايي پوګرام موسسي کارګرانو ته د غنمو کومك( کار د غنمو په مقابل کي) او همدارنګه UNDCP موسسي د ۲۰۰۰۰۰ امريکايي دالرو په ارزښت د قندهار سب ستيشن لپاره د ځينو پرزه جاتو او برقي تجهيزاتو مرسته کړيده .

پوښتنه : د برېښنا د يو کيلو واټ قسمت د فابريکو، دکانونو، شرکتونو او کورونو

٤ مخ

## سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

# د افغانستان د بيا رغوني په هکله د نړيوالي ټولني مسؤوليت

**دا يو روښانه او جوت حقيقت دي چي په افغانستان کي د کمونستانو کودتاه او د روسانو شرميدلي او وحشيانه تيري د افغانستان د خاوري او د افغانستان مسلمان ولس لپاره د هري بد مرغي بنسټ شو او له همدي ورځي را پديخوا د افغانستان او افغانانو د معنوي او مادي ارزښتونو چور او تالان پيل شو پوره يوويشت کاله کيږي چي په افغانستان کي د جګړي اوربل دي او حتمي ده چي جګړه له ځان سره له وراني او ويجاړتيا پرته بله ډالي نه لري او متاسفانه**

۲ مخ

# شریعت

دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : ملیار «کاکړ»
دیوې ګڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کې (۳) کلداري
پست بکس : (٤۷۱) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱
جاري حساب : ٤۰۳۸۵/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : دولتی مطبعه


## د سرمقالې پاتې برخه

چې جګړې افغانستان ته دا بد مرغه ډالې دومره پریمانه راوړې ده چې زموږ د هیواد یوه برخه هم ترې بې برخې نده پاتې شوې او داسې کور او کلې به ونه لیدل شي چې د ورانې اوویجاړتیا ټپ یې په ګوګل نه وي خوړلی تیرې یوویشت کلنې جګړې له یوې خوا زموږ د وطن آبادې ورانې کړلې او زموږ سمسور هیواد یې کنډور کړ نو له بلې خوایې د وطن د اباديي د ماستر پلان د تطبیق مخه هم نیولې وه او دا هر چاته روښانه ده چې د ۱۳۵۷ هـ لمریز نه را وروسته تر ۱۳۷۵ لمریز کال پورې په افغانستان حاکمو رژیمونو د وطن د آبادې په نیت حتی یوه خښته هم په بله ایښې نده نه یوازې دا چې د آبادې په لور یې یو ګام نه دی اخستی بلکه تر خپله وسه یې ددې ګران وطن په ړنګولو کې خوارې او کوښښ کړیدې چې د روسانو او کمونستانو د دورې د ورانې بیلګې د افغانستان اطرافي سیمې او د ربانې د ائتلافي دورې د ورانې او تباهې غټه بیلګه د کابل ښکلې ښار ښودلې شو چې لا تر اوسه یې هم ځنې برخې د یوې کنډوالې په څیر ښکارېږې . او دا هم یو حقیقت دی چې د افغانستان اسلامي امارت چې د هیواد په هره برخه کنټرول موندلی دی نو د امنیت تر تأمین وروسته یې د ټولو اقتصادی ستونزو سره سره د وطن اباديي او بیا رغونې ته ملاتړلې ده چې د اسلامي امارت د آبادې او بیا رغونې هڅې هم له چا پټې نه دې او نتایج یې د هرچا په وړاندې ښکاره دي چې د بیلګې په ډول د کابل ښار ته د بریښنا د انرژي انتقال د کار د وسایطو او وسایلو د نشتوالی سر بیره د کابل کندهار کابل - جلال آباد سړك ترمیم چې تقریباً بالکل د استفادې وړ نه وه .

د لسګونو نورو سرکونو د زرګونو پلونو، پلچکونو، مارکیټونو چوکونو، ښوونځیو، روغتونونو، مدرسو جوړول، په هیواد کې د تیلي کمونیکشن د نوي سیستم فعالیدل او داسې نور د بیا ابادولو پروګرامونه یادولی شو او دا بهیر په ډېر ګړندي ډول لاروان هم دی خو څرنګه چې د افغانستان اقتصادی بنسټ له یوې مخې نړیدلی دی او اسلامي امارت هم له اقتصادی ستونزو سره لاس او ګریوان دی او همدا اقتصادي ضعف ځنې وخت د بیا رغونې او ابادي د بهیر په مخ کې خنډ شي نو ددې لپاره چې دا بهیر ګړندي روان وي نو په کار ده چې نړیواله ټولنه د اسلامي امارت د اقتصادي رغښت په کار کې مرسته وکړې او اقتصادي ستنې یې ورټینګې کړي . که نړیواله ټولنه پلمه کوي چې له اسلامي امارت سره ستونزې لري نو موږ دوي ته وایو چې دوي که له اسلامي امارت سره او یا په بل عبارت له حاکم نظام سره ستونزې لري نو له ولس سره خو به یې نه لري نو آیا افغان مسلمان ولس د نړیوالې ټولنې د یو غړي په توګه په دوي حق نه لري چې آرام او هوسا ژوند وکړي ؟ او آیا افغانان ددې ټولنې د یوې رنځیدلې برخې په توګه په نړیوالې ټولنې د مرستې حق نه لري ؟ چې د پوښتنو ځواب حتماً مثبت دی. دا خو به پرېږدو چې د همدې نړیوالې ټولنې ځنو هیوادونو او ولسونو د افغانستان ورانې ته زمینه برابره کړې ده او لا یې هم برابروي.

نو دا په نړیواله ټولنه د افغانانو حق دی چې د وران وطن په آبادې کې ورسره مرسته وکړي ځکه دوي هم همداسې د نیستمنو او اړو خلکو سره په خپل وخت کې ډېرې مرستې کړیدې او که دوي وایي چې د افغانستان ټول ولس له یوې مخې د هغې اداري تر شا ولاړ دی چې دوي ورسره د ستونزو پلمه کوي نو بیا ولې د داسې یو نظام په رسمیت پیژندلو کې تعلل او تعطل کوي چې ټول ولس یې له یوې مخې تر شا ولاړ دی.

# څه ډول اهمیت ؟

د امریکی د خپلواکی د ۲۲۳ کلیزی په اړه په پیښور کی د امریکی په قونسلګری کی یوه غونډه جوړه شوی وه، پر تمینه به ځکه وه چی د نړی د بی سیساله زبرځواک د ملی ورځی جشن و او د افغانستان د پوځی او سیاسی ډګر ځینو پنډ تانو هم پکی برخه اخیستی وه د خبرونو له مخی د غونډې په پیل کی سر قونسل «برید هسن» د امریکی د ولس مشر بل کلنټن پیغام ولوست ، له ښاغلی کلنټن نه ښایی منته وشی چی د خپلی ملی ورځی په خوښیو کی یې د افغان ولس غملړلی ورځی په یاد دی او پدی اړه یې پخپل پیغام کی ځای ورکړی دی .

ښاغلی کلنټن په خپل پیغام کی ویلی : امریکه غواړی د افغان بحران په اړه مرسته وکړی، خو بحران باید خپله افغانان حل کړی، دا کار امریکا نشی کولی. لدی معلومیږی لکه چی ونشوه - دا خبری د امریکی رټ ځواب دی پوښتنه دا ده چی دغه بحران را منځ ته کړی چا دی ؟

ولس مشر کلنټن ویلی : امریکی ته افغانستان اهمیت لری او د لومړیتوب حق ورکوی، ښه شوه چی افغانستان د امریکی لپاره اهمیت پیدا کړ - که نه د مرحوم محمد داود خان په صدارت کی چی افغانستان له امریکی نه د خپلی پوځی پیاوړتیا له پاره د مرستی غوښتنه وکړه، د امریکی ځواب ځکه منفی و چی افغانستان امریکی ته اهمیت نه درلود - له همدی ځایه وه چی افغانستان شوروی اتحاد ته ځولی ونیوه او هیواد د سوسیال امپریالیزم په کومی ته ولوید. په ۱۹۵۹ کال په ژمی کی چی د امریکی جمهور «ایزنهاور» پاکستان ته د سفر په لاره څو ساعته په کابل کي تم شو مرحوم محمد داود خان خو د افغاني پوستینچو سوغاتونه هم ورته برابر کړی و خو چی هغه افغانستان د خپلی دوستی له پاره واره دار او د مرستی مستحق ونه باله، هغه سوغاتونه تر ډیره په ژمی کی د صدارت د پیره دارانو په دردوخورل.

دا ښه شوه چی ولس مشر کلنټن ته د افغانستان ارځښت جوت شو، او هغه تیر وتنه یی ومنله چی دده اسلافو د افغانستان په اړه کړی وه خو دا چی افغانستان ته د لومړیتوب حق ورکوی پدی ټکی پداسی اسانی د سړی سر نه خلاصیږی چی له کومه اړخ نه دغه هیواد د امریکی په وړاندی لومړیتوب حق ګټلی دی !!! او لدی حق ! نه به افغانان او افغانستان ته څه او څومره :ګټه ورسیږی د امریکی د خپلواکی د جشن په غونډه کی د صوبه سرحد ګورنر متقاعد جنرال محمد عارف بنګښ او پخوانی **وزیر اعلی آفتاب احمد خان شیرپاو هم برخه لرله .**

له افغانانو پکی پخوانی جمهور رئیس صبغت الله مجددی، سید اسحاق ګیلانی ، قطب الدین هلال ، قریب الرحمن سعید او نورو برخه لرله .

ښاغلی مجددی له څو اړخو پدغه غونډه کی د ارځښت خاوند شخصیت دی - د پاکستانیانو په وینا د یوه کالعدم جهادی ګوند مشر ، د افغانستان د دوو میاشتو ممثل جمهور رئیس « دا بیا بیله خبره ده چی په دغو دوو میاشتو کی یی د ارګ پر دوو کوټوهم پوره حاکمیت نه درلود »

په ۱۹۵۹ کی چی په کابل کی د ایزنهاور له څو ساعته تم کیدو وروسته خروسچف هندوستان ته د سفر په لار په کابل کی تم شو - ښاغلی مجددی د حکومت له خوا ونیول شو او د همزنګ میلمه شو .

قطب الدین هلال او قریب الرحمن سعید د هغه ګوند زاړه فعالان او میراث خواره دی چی یو وخت یی مشر په واشنګټن کی د امریکی د هغه وخت د ولس مشر رونالد ریګن د غوښتنی سره سره د هغه له لیدو ډډه وکړه دا داسی وخت وچی له ښاغلی حکمتیار نه د امریکی جمهور رئیس د لیدو غوښتنه کوله خو ده یی غوښتنه له یوی مخی رد کړه، په غونډو او کنفرانسونو کی به حزبیانو له شوروی اتحاد سره سم پر امریکا هم د مرګ شعارونه ورکول - خو هغه مهال د امریکی زغم زیات و ، سینه یی پراخه وه دا ډول ټول نازونه یی په غاړه وړل اوس د امریکی مزاج بدل شو ، هغه پخوانی مینه یی نه لیدل کیږی چی لکه د زړو ګړونګی داسی شور یی جوړ کړی و ځکه خو هلال او سعید هم په پیښور کی د امریکی قونسلګری په غونډو کی خپله حاضری لګوی ګیلانی صاحب او دا نور ځکه حق په جانب دی چی له لومړی ورځی یی د افغانستان په اړه امریکایی نجومیانو ته سترګی نیولی او هر څه یی هغوی د مخ او تندي له ګونځو تعبیروی .

سړی په باور سره نشی ویلی چی د امریکی مزاج بدل او حوصله تنګه شوه که ددغو یارانو موسم تیر شو خو دا تری راوتله چی نه نور امریکه هغه امریکه پاتی ده او نه یاران هغه یاران.

څوک چی چا په پتاسو اموخته کړی وی هغوی ته به د جوارو پولی ځنګه خوندور کړی ...

د امریکی د مرستی خوند افغانانو د جهاد په وختونو کي څکلی او پوهیږی چی دا د هماغو مرستو تبس دی، خو هغه په جګړه کی مرسته وه او اوس د سولی په لار کی د مرستی اړتیا اوس چی ښاغلی کلنټن د مرستی غږ او ژمنه کړی افغانان حق لری چی د هر کلی په څنګ کی یی هغه زړه اندیښنه په زړه را خپره شی .

جعفر خان اڅکزی یوه نیمه لسیزه مخکی پخپل کتاب « سؤلا و جوابا » کی ددغی پوښتنی په ځواب کی چی د افغانستان ربړه به کله بیخپوره حل شی کښلی و هغه وخت چی افغانان ځانونه د امریکی له مرستو او د پاکستان له خواخوږی بیغمه کړی . د ښاغلی اڅکزی ځواب څومره سم دی د وخت ممتحن ته لا خبره پاتی ده .

## پټې پاڼې

شهرت ننګیال

## پخې او تیرې

# د نورو به له نورو وي، د پښ به له بڼي

بیګاه مې د خپلې زړې راډیو د ستنې ګیرړې تاووله چې پام مې کیده سره بخونه ستن یې د مشهد راډیو د خبرونو په سوره ور برابره شوه چې دواړه لکه غومبسان راپورې ونښتل، ویاند یې ګنو بیولالو ته اړم ؤ او په خرپ یې ګزولې، د په اصطلاح متحدې جبهې «کابینه» سر خوږیې تر غوږ نیولې وه، چې نوره یې زموږ ورته زړه کړه .

په ور تیره لسیزه کې سیمه بیزو مطبوعاتو لکه اوس د «خاتمي» په اړه د «رفسنجاني» په دیموکراتوالي او لیبرالیوالي هم پر خلکو سرونه یوړه د به کړې ؤ او هله یې نو لالیوني شور او زوږ موندلی ؤ چې رفسنجاني یوار لکه افسانوي پاچا والوت او کرملین یې په خوله ورکړ . هغه کلونه عجیبه کلونه ؤ روسانو په افغانستان کې شرمونکې ماتې خوړلې وه او یو نیم یې ایله نیم نیمسوره سره سپیره غوږونه ایستلي و .

اروپایان او امریکایان چې له کلو راهیسې له کمونستانو سره په سر خوږې اخته وو د پیښو څارنه څك غوږونه ، رډې سترګي پلتې وهلي ناست و او چې په دې پوه شول چې د کمونستانو د زغم پښې په افغانستان کې د سور پوځ له ماتې او ګونډه کیدو سره وښویدې او د ګرباچوف د څڅیدو ویره شته، روسانو ته یې دده استعداد د نبوغ نه هم یو څه په مغ و بریښناوو او په ګډو جوړیږوې ولمانځه.

د ګرباچوف هم د غو ټکو ته پام ؤ چې کمونستان په سره تبې ناست دي او داسې انګیرې چې مایې په ستونې لته اینې که یې ګورت کړم بنکې مې باسي، نو یې خپل پرسترویکارنومي کتاب خپور او مطبوعاتو ته یې آزادي ورکړه چې د افغانستان د پیښو په اړه دي د کمونستانو له کړو وړو شړې واړوي او هغې ریښتونې ته دې چې پخوا به براځې بریژنیف سرخوړلي او یوه نیمه مور خوړلې سکرتره پرکه خبریده اوره ورکړي مطبوعاتو هم په خلاص مټ او د زړه له اخلاصه داسې لاسونه ور واچول چې په اونې کې خبره ډنډوره شوه او شپږ کاله وروسته زرګر غولولې په ځان خبر شول چې خبره له اووه ګامه اوښتې وه .

«کنګ یوک بروینک» روسي ژورنالست چې د روسانو له برغله وروسته زموږ هیواد ته راغلي ؤ د نیوکې په ترغ کې په روسي چارواکو چې اولس یې تر کومه حده لکه ړانده چرګان سرېداله ساتلي داسې ګیله ګې کړې وه « ما تعجب کاوه چې په روغتونو کې لمړني طبي مواد وینه او پهې نه وي کله چې مې د کمښت د علت پوښتنه وکړه راته وویل شو چې دلته ددې ویره شته چې که د بشپړو درملو او طبي سامان الاتو غوښتنه وشي نو خلکو ته به په شوروي اتحاد کې د مړو او ژوبلو اصلي شمیر ځرګند شي کمونستانو که رښتیا ویلاي تر سبا پورمبې به یې خولې په ځټ کې وې دې زیاتوي « زه په معمولي توګه ډېر څه لیکم خو هیڅ مې ونه لیکل ځکه چې ریښتیا

### زنګبدلي

لیکلو هیڅ امکان نه درلود»

« روسي پراختیا غوښتنه او افغانستان » ځکه دوي خپل ټول ټیپان اروپایي ملکونو ته لیږدول د درمل لپاره·له دې پیښو وروسته روسان له سده وواته لارو کوځو ته راتویې شول او په اول د سلاب کې بې ښایسته د «کارمل» په اصطلاح رهبر کبیر شورا ها لینن مجسمه (پرې) سر په چړیې ودروله، کمونستان د کورونو په لوښې واوستل « نوم بد ګریوان څرې» ګرانه لوستونکیه ! له واورې چې څومره غږ بڼو هغو مره سېږه ده خبرې رانه ډېرې وچیېدې د سر خبرو ته مې سودا شوه، زموږ د امریکایانو او اروپایانو په غرضونو غرض نشته چې له روسانو څه غواړي دوي دې خدای‌وج، چاړه او غوښه کړې چې تر سبا پورمبې سره وځپې او موږ یې له شره خلاص شو .

د ایرانې واکمنو خبره مې کوله چې له ګردې نړې سره د دوي تر بګنې ده، څو کاله د مخه چې رفسنجاني یو ټوپ وواهه او د کرملین په مانې ولګید، هر چا غوږونه په راډیو ګانو پورې ګنډلې وو چې د شرق به شي که غرب ، خو دوي لکه چې منځ میانه وختل، رفسنجاني خو خلکو ته دا په نظر کې ورکړه چې دې او هیئت بانې یې غواړې ګرباچوف د اسلام مقدس دین ته دعوت کړې او بله کومه موخه نلرې تر کومه ځایه چې اوس د هغې ناستې ګزك په هوارې وتلې او ایرانې واکمنو په ډېر هنر تر پلالې لاندې اوبه تیرې کړې وې چې کابو د ایران د اتمې پروګرام په سر امریکایې او روسې مشرانو تر غوږو سره تم کړې وُ ( د مېږو پرده په کارده) په ډېره سپېډا به یې سر نه سره خوږو، خو که چیرته د سفر عنوان شوې مو خه وځیږو، نو دا ویلای شو چې همدا ایرانې واکمن دې چې زموږ د هیواد شل کلنې غمیزې ته اوس اوس تر هر بل مغرضه ملك نه ډېره لمن وهې او د شلو ملیونو مسلمانانو تر منځ د جګړې اور تازه کوي خو ګرباچوف یې د دنیا له هغه سر نه مسلمانیدو ته را بلله ، ( مطلب مې ته بانې مې نورې = په لویه لار کې ماشومان کراروهه)

ایرانې واکمن دې په دې پوه شي چې په داسې خامو منترو اوس کله ذهنونه هوده کیږې سرونه دې ګریوانونو ته کړې خپله .د ماضې پاڼې دې راواړوې یو کسته دې یې وکړې « د بیدیا کاڼې که پاسته وای ګیدړانو به یو هم نه وای پرېښې» په افغانستان کې دې د برغلګرو له برخلیکه عبرت واخلې که نه دا د پلالې اور به یې یو وخت تر درمنده ورسیږي او کړي خوارې به یې لوټه شي.

## دلته «تانده سلگی» وینی ؟؟!

شادمن

تانده سلگی د شهید عبدالبصیر «عبرت» د شعرونو ټولګه ده چي د کندهار د اطلاعات او کلتور دریاست له خوا ۱۰۰۰ ټوکه په لړۍ ځل خپره شوي ده. چی نوي پاڼي لري د خپرېدو نېټه یې محرم الحرام ۱٤۲۰ ذکر شوي، د ښېښتی انځورګر یې صالح محمد «صالح» او د کمپیوټر سمبالونکي یې «شکیب» دي.

د تاندي سلګی په سر کي د اطلاعات او کلتور وزارت سرپرست متقي صاحب داسي ویلي دي «د اسلامي انقلاب د سرښندونکو تاریخ جوړونکو او بدلون راوستونکو له جملي څخه عبرت صاحب هم یو ځوان طالب، حافظ، شاعر او روښانه فکر خاوند وو، وروسي د کندهار د اطلاعات او کلتور ریاست مسؤول ملا عبدالحي «مطمین» د عبرت صاحب یاد داسي تازه کړي دي «عبرت جان ؟! نه یوازي یو با احساسه مجاهد، طالب او د قرآن حافظ وو؛ بلکه یوه تانده، ادبي او علمي څېره هم وه».

«شکیب» «د شاعر پېژندنه او د هغه په اړه څو خبري» تر سر لیک لاندي په یو ځاي کي داسي ویلي دي «عبرت صاحب» که څه هم کم عمره وو، تجربه مطالعه او مشاهده یې هم لږه وه؛ خو کلک استعداد یې د ښه لوړوالي څرګندوي وو» وروسي د عبرت صاحب تاندي سلګی د زړه په درد پیل کیږي چي سر لیک یې دي «خدایه!» وروسته د سلګو په کاروان کي ځان لاهو کوي او څه د پاسه اته څلوېښت سر لیکه شعرونه په «تانده سلګی» کي یو ځاي کیږي. په پاي کي «مطمین» «د شهید عبرت یاد» داسي وایي:

«در سره نن کوم پیمان ستا په هدف مي قسم
چي یې له عشقه مي له هر څه نه توبه ده اشنا
تا د بې ننګ ژوند په بدل کي شهادت طلب کړ
د مطمین درسره هم دا فیصله ده اشنا»

د ښېښتي انځورګر «صالح» چي د دردونو انځورګر دي ګل یې له پاسه په داسي ګرمه مرمي ویشتلي دي چي د مرمۍ نمبې له ورایه ښکاري او د ګل وینې داسي څاڅي چي تر څو «تانده سلګی» وي همدا وینې به څاڅي او د بوي به تري لوریږي. یوه یا دونه په کار ده هغه دا: چي د کمپیوټر په دوره کي «تانده سلګی» په یوو ځاي سر لیک

**(فهرست) نه لري هیله ده په راتلونکو کتابو کي څه خاص پام ورته وشي. راځي په ګډه له «تانده سلګی» څخه په «ښکلا» سترګي یخي کړو:**

## ژوند څه دي!

ب.م

ژوند په خپله یو میله ده
غم، ښادي یې ځي په لاري
شپه او ورځ چي یې تیریږي
خوند او مینه وي روان ه
درد او ویر سره ملګري
په اخیر کي بل شي نه دي
د مرګونو لوي کاروان دي
د ویرونو لوي داستان دي
هسي خوب دي چي یې وینو
د خیالونو په منزل کي
د ترخو شپېو په غېږ کي
د تنکو سپورو په ویر کي
د شېلېو هسي څرک شي
ته به وایې دا بل شي دي
په اخیر کي بل شي نه دي
د مرګونو لوي کاروان دي
د ویرونو لوي داستان دي
یوه ورځ غرونو سر شي
یوه ورځ په ګړنګونو
یوه شپه د ساز له ځنګه
یوه شپه په اسویلو ځي
چي حساب په ګوتو شمار شي

دي تیر شوي تر کلو وي
بیرته نه راځي و چم ته
هسي لمر په غره لویدل دي
ته به وایې تور آسمان دي
په اخیر کي بل شي نه دي
د مرګونو لوي کاروان دي
د ویرونو لوي داستان دي
څوک په دار کا
څوک په تورو
د چا تنده په جامونو
او د زهرو په ګوټونو
د چا غوښي په هوا ځي
څوک په لوبو پلېګونو
داسي ورک کا له جهانه
ته به وایې دا بل څه دي
په اخیر کي بل شي نه دي
د مرګونو لوي کاروان دي

## د شعر او ادب پاڼه

## شهید گوید

عبدالرقیب «جهید»

من شهید راه آزادي دین و کشورم
من قتیل في سبیل الله شرع انورم
جان سپردن در پي توحید کار مؤمن است
با تن خون خفته، خود شاهدم در محشرم

عهدو پیمان بسته بودم با خداي ذوالمنن
تا سر سنگر پذیرم شد فداي داورم
پیشه، هر مؤمن مقبل قرباني بود
زان سبب پروانه وار من کشته، این سنگرم

آنچه از شهد شهادت لذت جان دیده ام
این فضیلت خاصه، مایان باشد از کرم
جامه، رنگین ما باشد نشان عاشق
اعتلاي نام حق باشد مرام [illegible]

نهضت توحیدیان بتخانه، دشمن شکست
خون من باشد دلیل و رهنماي پیکرم

## غزل

خوشحال [illegible]

لکه زه په یار مین یم، بل به نه وي مین هسي
لکه زه پسي غمجن یم بل به نه وي غمجن هسي
هم مي ووژني په خپله هم په ما باندي ژړا کا
څه ښه یار دي ښه بې مینه، وژل هسي شیون هسي
مخ یې درست سره ګلدار دي، رنګارنګ لري ګلونه
تفرج د بهار ګوره پکي نشته ګلشن هسي
زړه داغدار غرقه په وینو لاله ګل وته وګوره
هیڅ شهید نه دي راوړي له ازله کفن هسي
لکه زه یې ننداره کړم ورځ و شپه پخپله خرنه
خوار مجنون لیدلي نه ؤ په درست عمر دیدن هسي
چي «خوشحال ختک» یې وایي په پښتو ژبه خبري
په فارسي ژبه به نه وي که پوهیږي سخن هسي

## غزل

شهید عبدالبصیر «عبرت»

ستا د ښایست په بدرګه کیښي ووېو لمر درسره
یوه سپوږمي او بل د ستورو غټ لښکر درسره
ستا د راتلو سره د جهل تیاري شولي رڼا
چي د تیارو په سینه ښخ شو ها خنجر درسره
رادي وري مور ته د حیا له میوه کي پیالي
چي د حیا او حلم کان وو هغه نمر درسره
داواړه ښکلي صفتونه دي په تا کي نغښتي
جام د جمشید، بوي د ختن، رنګ د حیدر درسره
د حیرت ګوتي ورته غاښ باندي عقلونه نیسي
چي حکما، ورته حیران دي ها هنر درسره

ستا په دربار کي څو ګروښي تحفي وړاندي کړي
زما «عبرت» دي په تحفه کیښي وي دا سر درسره

# د افغانستان د اقتصادی بیا رغاونی لاري چاري

یار محمد "همنوال" - حلورمه برخه

### د ملی اقتصاد د په پښو درولو په لار کی له کومو پروګرامو څخه باید کار واخلو؟

د هیواد د اقتصاد ښه کولو او پرپښو درولو لپاره باید پراخ تدابیر او امکانات وسنجول شی. تر څو د یو منظم اقتصادی سیاست په رڼا کی دی تدبیرونو عملی کول ممکن وګرځی هغه تدابیر چی عملی کول یی لازم بللی شی په لاندی ډول دی:

الف: د صنعت په برخه کی د پانګی اچونی تشویق: څرنګه چی مونږ په مخکنی بحث کی دی ټکی ته اشاره کړی وه چی د هیواد د پانګی ډیره برخه د داسی تجارت په سکتور کی بوخته ده چی د هغه څخه یوازی پانګوالو ته ګټه رسیږی او د هیواد اقتصادی سیستم د ګټی پر ځای له دا ډول آزاد تجارت څخه زیات تاوان وینی.

ددی لپاره چی پانګوال د خپلی پانګی څخه د ملی اقتصاد په ګټه کی کار واخلی یوازنی او ښه لاره یی په صناعتی سکتور کی د پانګی اچونی لاره ده چی د مسوولینو له خوا تشویق شی تر څو پانګوال خپلی پانګی د لازمو اسانتیاو په ورکولو سره په دی برخه کی په کار واچوی چی البته دا کار د سوداګری او پلان وزارت د ګډو هڅو په نتیجه کی ممکن کیدلای شی.

ب: د ملی صنایعو تقویه د خارجی رقابت په مقابل کی:

کومی صنایع چی په هیواد کی نوی را منځ ته کیږی، طبیعی خبره ده چی د هغو د تولیداتو کیفیت د خارجی بالمثله صنایعو په پرتله ټیټ او بیه یی هم جګه وی. دا ډول صنایع د خارجی رقابت په مقابل کی ډیر ژر ماتیږی او له منځه ځی.

ددی لپاره چی زمونږ دا ډول صنایع تقویه شی او ورشکستګی له بحران څخه په امان کی پاته شی، په بهرنیو بالمثله صنایعو باندي باید ډیر لوړه ګمرکی تعرفه ولګول شی تر څو قیمت یی جګ او د خرڅولو امکان یی محدود شی، نو په مقابل کی به خلک د خپل هیواد د تولیداتو څخه چی نسبت خارجی متاع ته ارزانه تمامیږی مخ واړوی او د خپلو ملی مصنوعاتو په رانیولو سره، به د هیواد اقتصاد تقویه او ملی پانګوال به له خارجی رقابت څخه وساتی.

له بلی خوا د لوړی ګمرکی تعرفی عایدات د امارت خزانی لا شتمنی کولای شی چی له دی درکه د ملی عایداتو ګراف لوړیږی.

که مونږ د افغانستان د صنایعو تاریخ ته لنډه کتنه وکړو وینو چی په هیواد کی ځنی فابریکی د ساری په توګه د شاکر د چینی جوړولو فابریکه یا د اورلګیتو او داسی نوری فابریکي په پخوا وختو کی رامنځ ته شوی وی او خپل تولیدات یی درلودل خو هغه فابریکی چی د وخت د حکومتونو د نه توجه له امله د خارجی رقابت په مقابل کی ونشو کولای خپل ځان وساتی، **له منځه ولاړی او اوس یی تولیدات د انتیک په بازار کی په ډیره لوړه بیه خرڅیږی.**

زمونږ په هیواد کی ضرب المثل دی چی وایی تر پردی زوی خپله لور ښه ده په حقیقت کی همدا خبره افاده کوی چی تر پر دو تولیداتو زمونږ د خپل وطن تولیدات مونږ ته ښه دي او دا به په تدریجی توګه د خپل تکامل پړاوونه ووهی یوه ورځ به ددی جوګه شی چی په بهرنیو بازارونو کی د رقابت کولو لپاره وړاندی شی. د هیڅ هیواد صنایع د اولی ورځی څخه تکمیل نه وی ورو ورو د هغوی نواقص له منځه تللی او متکامل پړاو ته رسیدلی دی.

زمونږ خلک باید ددی ملی احساس پر بنیاد کوښښ وکړی چی خپل د ضرورت وړ شیان کوم چی زمونږ په هیواد کی تولیدیږی تر خارجی متاع د رانیولو په وخت کی حق د اولیت ورکړی. تر څو خپله ملی وجیبه د هیواد د اقتصاد په پښو درولو په لار کی سرته ورسوی.

ج: په آزاد تجارت محدودیتونه لګول او د غیر ضروری شیانو د تجارت بندول:

آزاد تجارت ددی پر ځای چی د یوه هیواد له ملی اقتصاد سره د بیا رغاونی په لاره کی کومک وکړی، هغه تخریبوی او د سقوط کندی ته یي نږدی کوی.

زمونږ هیواد د هغو هیوادو په ډله کی چی وروسته پاتی دی په لومړی قدم کی راځی له همدی امله تر اوسه مونږ اقتصاد په دی نه دي توانیدلی چه د خپلو هیوادوالو د ژوند اساسی اړتیاوی ور پوره کړی.

خو د حیرانتیا خبره ده چی زمونږ په بازار کی د تجمل د شیانو او یا محض مصرفی (استهلاک) شیانو موجودیت په هغه پرتله لیدل کیږی لکه د نړی د پر مخ تللی هیوادونو په بازارو کی چه پیدا کیږی چی البته دا ډول تجارت د وروسته پاتی هیوادو لپاره یوه استعماری نسخه ده چی باید مونږ هغه ته متوجه او سو. او د داسی استهلاکی او غیر ضروری شیانو بندول په حقیقت کی د استعمار د پلان ماتول او د ملی اقتصاد د رغاونی یو مهم عنصر دی.

د: د افغانستان د لاسی صنایعو او **خامو موادو د خرڅلاو لپاره د بازارونو پیدا کول:**

د یو هیواد د پیسو ارزښت تر ډیری اندازی د وارداتو او صادراتو په انډول پوری اړه لری په دی معنی که د یوه هیواد صادرات ډیر او واردات یی کم وی د هغه هیواد د پیسو ارزښت د هغه هیواد له طرفه نیول کیږی چی په خپلو بانکونو کی یی خارجی اسعار جمع کړی وی. بر عکس [illegible] د یو هیواد واردات د صادراتو په پرتله [illegible] وی نو خپلی ټولی اسعاری پانګی یی [illegible] دی چی د خپلو پیسو ارزښت په خپله تعین کړی د نورو هیوادو د [illegible] خوا تعین کیږی.

په تاسف سره چی اوس مونږ په همدی مرحله کی قرار لرو چه صادرات موجود نه دی او واردات مود [illegible] دی چی د کنترول له امکان څخه [illegible] خبره ده. په هر حال د اقتصادی بیا رغاونی د پاره چی کوم تدابیر [illegible] په هغه کی د افغانستان د لاسی [illegible] زراعت او مالداری د بخش [illegible]

یعنی کشمش د قره قل پوستکی [illegible] نور خام مواد چی د طبیعی منابعو [illegible] لاسه کیږی باید په زړه پوری [illegible] مارکیټونه ورته ولټول شی تر څو [illegible] لاری خپل صادرات زیات [illegible] خارجی اسعار خپل هیواد ته [illegible] دی لاره کی باید د خارجی کار [illegible] رقابت روحیه زیاته قوی وساتله شی تر څو مونږ د هغوی د رقابت څخه په خپله ګټه زیات څه تر لاسه کړو او د ویجاړ اقتصاد د بیا رغاونی په لاره کی اوچت ګامونه پورته شی.

## د کندهار برېښنا مرستیال محترم...

لپاره څومره ټاکل شوېدي ؟

ځواب : د برېښنا د یو کیلو واټ بیه د هستوګنې د کورو لپاره تر ٦۰۰ کیلو واټو پورې ۷۰۰ افغاني او تر ۷۰۰ اضافه ۱۰۰۰ افغاني ټاکل شوېده دوکانونو، فابریکو، شرکتو او د حکومتي ادارو لپاره یو کیلو واټ په ۲۰۰۰ افغاني ټاکل شوېدي. او دا ورو ستي لایحه ده چې د اسلامي امارت لخوا منظور او تر اجرا لاندي نیول شوېده .

پوښتنه : آیا ټول کندهار ښار مو په برېښنا روښانه کړېدي او ولسوالیو ته مو هم برېښنا ورکړېده او که نه او که ورکړې مو نه وي نو څه تصمیم لرې ؟

ځواب : د کندهار ښار تقریباً زیاتي برخې ته برېښنا رسیدلې ده چې اوس فعلاً په میرویس مینې کې د برېښنا کار پیل شوېدي د بابا ولي صاحب ، ډنډ، امان ولسوالیو کې هم د برېښنا د توزیع کار څه نا څه ترسره شوېدي البته ولسوالیو ته هم د برېښنا د توزیع کار تر پروګرام لاندې دي او د برقي تجهیزاتو د تر لاسه کولو په صورت کې هلته هم د برېښنا جریان تأمینیږي .

پوښتنه : د کجکي د برېښنا د بند د تولید وروستي ظرفیت څومره دي اوس څومره تولید لري او آیا اوس مو تولید ډېر دي او که مصرف مو ډېر دي ؟

د کجکي د برېښنا تولیدي ظرفیت ۳۳۰۰۰ کیلو واټه دي او اوس تولید تر مصرف ډېر دي او کولاي شو لنډه برېښنا هم توزیع کړو اوس د قندهار او هلمند د دواړو لوړ مصرف ۱۰ میګاواټو ته رسیږي .

پوښتنه : په برېښنا کې د ګډون بیه یا حق لاشتراك د کورونو لپاره څومره ده او د فابریکو، او شرکتونو لپاره څومره ده ؟

**ځواب : د برېښنا حق الاشتراك یا حق الامتیاز د سنګل فاز او دري فازه مترو لپاره د میټر په ظرفیت پورې اړه لري کم حق الامتیاز ۸۳۰۰۰ افغاني دي او د فابریکو او شرکتو لپاره د دوي د برېښنا د مصرف سره سم میټر نصبیږي حتي د ځینو میټرونو حق الامتیاز ۳۳٦۰۰۰۰ افغانیو ته هم رسیږي چې دا د یوې علیحده لایحې په اساس تر اجرا لاندې نیول شوېدي .**

**پوښتنه : سږ کال او تیر کال مو د برېښنا له درکه څومره عواید تر لاسه کړېدي ؟**

**ځواب : د برېښنا عوایدو معلومات مونږ ته د افغانستان بانك د لاري را کول کیږي او دا چې څومره پیسې بانك ته تحول شوېدي هغه د بانك د مربوط کمیسیون د لاري کنترول کیږي او مونږ ته معلومات راکوي . د تیر کال ۱٤۱۹ هـ ق تر ختم پورې د برېښنا عواید ۵۱۰۱٤٤۱۱۰۸٦ او مصارفات ۷۰۳۹۷۱۸۲۸۹ خالص عاید ٤۳۹۷٤٦۹۲۷۹۷ افغاني دي او د ۱٤۲۰ کال د شروع څخه تر ۱٤۱۲۰/۳/۹ تاریخ پورې ټول عواید ۵۵۵۸۷۸۱۰۲۲۰ افغاني دي .**

## در بخش اطفال شفاخانه میوند ...

محترم هفته نامه شریعت تقدیم میشود.

بخش اطفال یکي از بخش هاي عمده و اساسي شفاخانه، میوند بشمار میرود. که داراي سرویس هاي داخله عمومي ، سؤ تغذي ، امراض ساري و لابراتوار و دواخانه مي باشد که ادویه لازم به صورت رایگان براي اطفال مریض از جانب شفاخانه توزیع میشود همین اکنون در بخش اطفال شفاخانه میوند یازده داکتر اناث دوازده نرس شب و روز در خدمت اطفال قرار دارند. تنها بخش اطفال شفاخانه میوند ظرفیت ۱٤۰ بستر را دارا مي باشد.

اکنون که هوا خیلي گرم شده و اطفال به امراض گوناگون مبتلا گردیده اند و طي چند روز گذشته مرض کشنده کولرا در بین سایر این مریضي ها در اطفال به مشاهده میرسد گزارشگر هفته نامه شریعت جهت آگاهي مادران و فامیل هاي محترم از بخش اطفال شفاخانه میوند بازدید نموده و صحبت هایي را در زمینه با مسؤولین آن انجام داده که توجه شما را به گفت و شنود خبرنگارهفته نامه شریعت با محترمه دکتورس رومان «برومند» متخصص داخله عمومي اطفال این شفاخانه جلب میداریم ایشان در پاسخ به این پرسش که در این اواخر کدام مرض بیشتر در اطفال دیده شده؟ چنین گفت اکنون که در فصل گرماي تابستان قرار داریم وقایع اسهالات در نزد اطفال زیاد گردیده است .

در اتاق عاجل بخش اطفال بیش از صد مریض مراجعه کرده که اکثریت شان مبتلا به اسهالات مي باشند. متاسفانه طي پانزده روز اخیر اکثریت مریضان مصاب به اسهالات «کولرا» مي باشند که کولرا یك مرض حاد و یك انتان ساري جهاز هضمي مي باشد که با اسهالات بسیار شدید و آبگین و استفراغات یکجاست . محترمه دوکتورس رومان برومند در پاسخ به این سوال که کولرا چگونه بوجود مي آید و عامل مهم آنرا چه تشکیل میدهد چنین گفت : کولرا توسط آب آشامیدني غیر صحي ملوث ، مواد غذایي ملوث، و اکثراً شب مانده، میوه جات و سبزیجات به دقت نا شسته انتقال مي کند و اگر بسیار عجل تداوي نشود باعث ضایع شدن آب و نمکیات وجود گردیده و سبب مرگ مریض مي شود. محترمه «رومان» در پاسخ به این سوال که آیا بخش اطفال شفاخانه میوند امادگي پذیرش مریضان کولرا را دارا مي باشد یا خیر؟ چنین اظهار داشتند : بخش اطفال شفاخانه میوند آمادگي ع، و تام به کمك مؤسسه حمایه اطفال و مؤسسه M.S.F و وزارت صحت عامه امارت اسلامي افغانستان براي پذیرش مریضان کولرا دارد. طي سیمینار هاي پیرامون مرض کولرا پرسونل طبي تربیه شده ایجاد محوطه جداگانه از سایر اتاقهاي مریضان صورت گرفته است و ادویه و O.R.S به اندازه وافر دریافت میشود.ما خواهان کمك بیشتر مؤسسات خارجي در قسمت از بین بردن مرض کولرا میباشیم .

محترمه «رومان» متخصص داخله عمومي اطفال شفاخانه میوند راه هاي وقایوي را بخاطر جلوگیري از اسهالات اطفال و مرض کولرا براي فامیل هاي محترم به خصوص مادران چنین بیان داشت:

۱- مادران باید براي اطفال شیر خوار از شیر خود تغذیه نمایند .

۲- براي اطفال فهمانده شود که حتماً قبل از خوردن غذا و بعد از رفع حاجت دستان خود را با آب و صابون خوب بشویند.

۳- فامیل ها باید از بیت الخلا صحي استفاده نمایند.

٤- اطفال از آب صحي و جوش داده شده استفاده نماید . ۵- باید واکسین هاي اطفال منظم تطبیق گردد.

٦- اگر براي اطفال بعد از سن چار ماهگي در پهلوي شیر مادر غذاي اضافي داده میشود باید در پخت و پز آن توجه جدي صورت گیرد و غذاي تازه براي اطفال داده شود و اگر طفل مصاب به اسهال میشود براي جلوگیري از ضایعات آب و نمکیات وجود طفل محلول O.R.S داده شود و در پهلوي آن تغذیه درست طفل صورت گیرد.

سلطانه رحیم

### مصرف روزانه سلاد و سبزیجات خطر مصاب شدن به سرطان را کاهش مي دهد

محققان تاکید دارند که مصرف روزانه سلاد و سبزیجات همراه با غذا خطر مصاب شدن به سرطان هاي خون سینه و گرده را کاهش میدهد روز نامه انګلیسي زبان چاپ دهلي جدید به نقل از متخصصان مریضي هاي سرطان مي نویسد در هر یك از سبزیجات و میوه ها مواد ضد سرطان وجود دارد که مجموعه از آن ها حاوي موادي است که شامل بیست و دو هزار ترکیب کیمیاوي بوده و خطر مبتلا شدن مرض سرطان را کاهش میدهد محققان مي گویند لیمونون ماده که به خانواه این مرکبات تعلق دارد و رنګ سرخ بادنجان رومي را مي سازد از جمله مواد مفیده محسوب مي شود که براي از بین بردن سرطان مفید است .

### جواني انګلیسي که با دوش قصد دور دنیا را داره

رابرت گار ساي یك جوان و دونده انګلیسي که قصد دارد با دویدن به دور دنیا ریکارد تازه بدست آورد هفته قبل وارد بونس ایرس پایتخت ارجنتاین گردید. این بیست و دومین کشوري است که وي با دویدن پیموده است این دونده تا کنون سي هزار کیلو متر راه دویده است رابرت گارساي هنگام دوش در چندین کشور به حوادث روبه رو گردیده است . در روسیه به سوي او تیر اندازي شد در کشور دیګري دزدان پولش را ربودند و در چین به وي اتهام **جاسوسي وارد شده و او را به مدت یك ماه به زندان انداختند چرا که کمره ویډیویي با خود حمل مي کرد.**

## په تیرو دوه نیمو ...

کارکوونکي په مختلفو شریدونو کې چې مخکښې تعین شوي دي مؤظف شوي او د خلکو همکاري بې ځانته جلب کړې ده چې د پیښو د مخنیوي په منظور بې ښه نتیجه ورکړې ده نوموړي وویل چې د روان کال د دریو میاشتو په جریان کې لکه چه پورته وویل شول ۲٤۰ پیښې زمونږ اړونده ادارو ته رارسیدلي دي په داسې حال کې چې د تیر هجري قمري کال د دریو لومړنیو میاشتو په جریان کې مجموعاً ۲۲۳ پیښې د ۲۸۹ نفرو په اتهامیت ثبت او راجستر شوي دي چې د تیر کال په نسبت یې په شمیر کې زیاتوالي راغلي علت یې دا دي چې مونږ اکثرو ولایتونو ته مجرب او په کار پوه کارکوونکي د هیئت په ډول ولیږل چې له دي مرظفینو سره له نژدې وګوري او د هغوي د کارونو د سمون په اړه ورته رهنمایي وکړي.

محمد رفیق «عزت»

## جلسه کمیسیون اقتصادي ...

وزارت معادن و صنایع ، محترم مولوي عبدالغیاث قانع معین وزارت زراعت، محترم مولوي محمد رستم حنفي معین وزارت فواید عامه و نماینده گان شاروالي کابل و د **افغانستان بانك تحت ریاست سرپرست وزارت پلان دایر شده بود روي موضوعات اقتصادي و اجتماعي کشور بحث بعمل آمده پیشنهادات و نظرات کمیسیون جهت اخذ تصمیم نهایي به شوراي محترم سرپرست امارت اسلامي افغانستان ارائه گردید.**

## بیش از هفتاد و چهار ...

**و خنثي گردیده است .**

**آژانس اطلاعاتي باختر از قول یك منبع مربوط گزارش میدهد: با پاك سازي ساحات در ولسوالي احمد خیل آنولایت تعداد زیادي از ساکنین آنجا با اطمینان کامل به منازل اصلي شان جاگزین گردیدند.**

**مسؤولین مؤسسه ماین پاکي اي.تي.سي از ساحه متذکره اخیراً از وجود ماینها و مواد منفلق نا شده پاکسازي شده اهالي آن ولسوالي اطمینان داد .**

**قابل ذکر است که در زمان رژیم کمونستي و تجاوز روسها در افغانستان بیش از ده ملیون ماین مختلف النوع توسط روسها و کمونستان در مراکز ولایات ولسوالي ها و قصبات کشور ما کار گذاري شده و مخالفین امارت اسلامي نیز با جا بجا نمودن ماین هاي مختلف النوع دست به این عمل غیر انساني زده که علاوه بر خسارات هنگفتي مالي تعدادي از همرطنان ما از اثر انفجارات جانهاي شیرین خود را از دست میدهد.**

## بیش از دو صدو ...

ساحه جریان برق دو باره تامین گردیده است .

همچنان کار باز سازي آخرین برج برق ساحه مکروریان کهنه نیز به شدت جریان داشته و امیدوارم در هفته آینده باشنده گان هفت بلاك دیگر که در یکصدو چهارده اپارتمان در حال بي برقي زنده گي میکنند از نور برق مستفید گردد.

موصوف در اخیر علاوه نمود سامان آلات و تجهیزات برق شبکه برق مکروریان کهنه بشمول ترانسفارمر ها از بیرون کشور وارد نه شده بلکه یك قسمتي از سامان الات از بازار تهیه شده و قسمت اعظم آن از سامان آلات و تجهیزات داغمه و باز گشتي به ابتکار کارکنان و انجنیران وزارت آب و برق دو باره ترمیم مونتاژ و نصب گردیده است .

## په فاریاب کې ...

معین الدین لخوا مثبت وبلل شو .

د پښتون کوټ ولسوالي د محکمې رئیس محترم مولوي شیر محمد او د خواجه سبز پوش ولسوالي د محکمې رئیس محترم مولوي محمد نسیم د موضوع په باب خبري وکړي او د محمدي غرا شریعت د حکمونو عملي کولو په لاره کې یې خپل بشپړتیاري څرګند کړ .

## سیمینار توضیحي ...

**سیمینار متذکره که مسؤولین عرصه هاي مختلف ریاست زراعت ولایت جوزجان، باشي ها ، قریه داران، متنفذین محل، موسفیدان و زارعین آنولایت شرکت ورزیده بودند بعد از آنکه آیات چند از کلام الله مجید قرائت گردید محترم ملا شفیع آخند زاه یکتن از مسؤولین ریاست زراعت ولایت جوزجان و تني چند از کارمندان مسلکي آنریاست بالترتیب جهت آشنایي زارعین در مورد تنظیم امور املاکي حق آبه ها و میتود هاي جدید بخاطر استفاده موثر از زمین هاي زراعتي به حاضرین سیمینار مفصلاً معلومات داده و آنها را در روشنایي کامل اهداف و برنامه هاي امارت اسلامي افغانستان در این راستا قرار دادند سپس عده یي از اشتراك کننده گان سیمینار سؤالات پیشنهادات و مشکلات زراعتي شانرا مطرح نمودند که از طرف مسؤولین ریاست زراعت ولایت جوزجان به ایشان جوابهاي لازم داده شد.**

## د یوې غونډې په ...

اردو قوماندان محترم ملا عبدالسلام راکټي د ختیځ زون د نظامي محکمې رئیس محترم مولوي حبیب الله د ننګرهار ولایت امنیه قوماندان محترم مولوي طه قادري د ننګرهار پوهنتون رئیس محترم مولوي عبدالرشید. د لومړي لمبر قول اردو یو شمیر چارواکو او منسوبینو د سلمي فرقې قوماندان محترم **قاري احسان الله بریال او د خلورمي زغروالي لوا قوماندان ګډون کړي و لومړي د کلام الله مجید څو مبارك ایتونه ولوستل شول بیا د ختیځ زون د تنظیمه ریاست محترم مرستیال او یو شمیر چارواکو د افغانستان د اسلامي امارت د تعلیمي او تربیتي پروګرامونو په باره کې خبري وکړي .**

**په پاي کې ددغې مدرسې په لسو تنو قارغانو باندي د قراءت سندونه ووېشل شول او د فضیلت پګړي ورته وتړل شوي .**

| د ګډون بیه له هیواد نه بهر | | |
|---|---|---|
| مالك | شپږ میاشتنی | کلنی |
| پاکستان | RS200 | RS400 |
| دخلیج هیوادونه | SR.150 | SR.300 |
| اروپا او امریکا | US$75 | US$150 |

تبصره

# جهانیان باید در عرصه وقایه و کنترول مرض کولرا افغانان را تنها نگذارند!!

بنا بر گزارشات و راپور هاي واصله از شفاخانه هاي مرکز و ولایات کشور، شیوع مرض کولرا یکبار دیگر در شهر کابل و برخي از ولایات کشور تثبیت گردیده و طبق گزارش نسبت به سالهاي گذشته چند یوم پیش زنگ خطرات احتمالي حملات کتلوي این مرض مهلك در مرکز و ولایات کشور به صدا در آمده است . واضح است که تجاوز روسها و جنایات رژیم کمونیستي قبلي و به تعقیب آن زدوخورد هاي دوران انتلافي مسعود ربانې شیرازه تمدن و انکشاف کشور عزیز ما را یکسره ویران نموده و از جهات مختلف به ملت مظلوم ما صدمات جبران ناپذیري وارد آورده است، که ویراني و تخریب شفاخانه ها سرقت و چپاول سامان آلات طبي، تخریب سیستم صحي ابرساني و کانالیزاسیون برهم زدن انتظامات مراعات شرایط حفظ الصحوي و جمع آوري و تدفین مناسب فضله جات در مرکز و ولایات همه و همه عللي است که پروسه صحت عامه را در کشور عزیز ما مضرر ساخته و به حیات هموطنان ما تهدیداتي را متوجه ساخته است . طبیعي است که تخریب پروسه حفظ ما تقدم و وقایه و کنترول امراض و بالاخره عدم تداوي مناسب امراض، فلاکت هاي غیر قابل کنترول را در قبال داشته و مصایب بي شماري در پي دارد، چون بیشتر از نود فیصد تاسیسات و پروژه هاي تأمین صحت عامه در کشور در جریان جنگ هاي قبلي تخریب و از بین رفته است و احیاي مجدد آن نیز به امکانات و وقت کافي نیاز دارد بناءً خواهي نخواهي امراض میکروبي به اشکال انفرادي و دسته جمعي صحت مرم ما را تهدید مینماید که وقوعات سالانه امراض اسهالي خصوصاً کولرا در موسم گرما در مناطق مختلفه کشور مثالي از این فلاکت مي باشد به همگان معلوم است تا جائیکه وزارت صحت عامه امارت اسلامي افغانستان در توان دارد از بذل هیچنوع مساعي در راه احیا و اعمار مجدد شفاخانه ها ، مراکز صحي و تجهیز و اکمال آن دریغ نشوده که احیاي مجدد برخي از روغتون هاي شهر کابل و ولایات دیگر کشور و تعمیر مراکز صحي در اکثریت ولسوالي ها و قریه جات کشور گواه این حقایق میباشد، همچنان بمنظور جلوگیري از وقوعات امراض مراجع مسؤول تهیه آب آشامیدني و تأمین حفظ الصحي محیطي کشور نیز تا حد توان در این راه گام هاي مثمري برداشته است، اما متاسفانه که ویرانکاري هاي جنگ هاي بیست ساله تا حدي است که اعمار دو باره آن با امکانات ناچیز ما و مدت زمان کم نا ممکن میباشد چنانچه ضرب المثل مشهور است ( ویران کردن آسان است اما آباد نمودن مشکل است) بناءً اعمار و آبادي مجدد خیلي مشکلات در پیش رو دارد که انشاء الله به اثر توجه مقامات ذیربط و همکاري بي شائبه ملت مجاهد ، روزي این همه مشکلات مرفوع خواهد شد اما تا آن زمان، وقت مزیدي در کار است و این مدت زمان مملو از مشکلات نیز میباشد که لازم است تا جهانیان دستر سازمان صحي جهان ، مؤسسات خیریه بین المللي و مراجع صحت عامه کشور هاي خیر اندیش و واقعاً بشردوست در راه رفع این مشکلات ملت ما را تنها نگذاشته و بدون در نظر داشت فکتور هاي سیاسي و ... وزارت صحت عامه امارت اسلامي افغانستان و ملت در معرض خطر ما را تا حد توان یاري بخشیده و بدین وسیله رسالت مهم بشري شانرا در زمینه اداء نمایند. اینکه فعلاً وقوعات مرض کشنده کولرا در مرکز و ولایات کشور ما بروز نموده، تا کنون بیشتر از پنجاه و پنج تن را به کام مرگ فرو برده و خطر احتمالي مصابیت بیش از پنجاه هزار تن را در قبال دارد لازم است تا هر چه زود تر بمنظور حفظ ماتقدم در وقایه و کنترول و تداوي مریضان مصاب کولرا اقدامات عاجل بعمل آمده و آماده گیهاي لازم گرفته شود. آب آشامیدني باید هر چه زدو تر کلوریشن گردد، فضله جات و کثافات که مساکن تجمع و نشو و نماي عاملین امراض میباشد بطریقه صحي آن از صحنه چیده شده و مدفون گردد، شفاخانه ها و مراکز صحي مرکز و ولایات کشور با ادویه و مایعات لازمه به اندازه کافي مجهز گردد ، بستر هاي اضافي و کمپ هاي امداد عاجل صحي در مناطق در معرض خطر ایجاد گردد پرسونل طبي و خدماتي مراکز صحي و شفاخانه ها در ۲٤ ساعت به تعداد اکثر حاضر خدمت باشند و امبولانس هاي سیار و مجهز در تداوي و انتقال واقعات عاجل در مناطق و نواحي قابل نیاز آماده کمك بوده و بالاخره کمپاین هاي عمومي تبلیغات صحي و آگاهي مردم از طرق محافظه و وقایه خو د و اولاد شان از طریق وسایل ارتباط جمعي و غیره مسؤولین به راه انداخته شده تا جلو خطرات تباه کن گرفته شود البته واضح است که این همه تدابیر و اماده گي امکانات، وسایل و مصارف لازم بکار دارد که شاید به تنهایي از توان مقامات مسؤول خارج باشد و در جهان نیز معمول و حتي حق بشر بالاي نسل بشر است تا در جریان بروز حادثات و واقعات آنات دسته جمعي یکدیگر را مساعدت و یاري بخشند بناءً سازمانهاي خیریه صحي جهان و منطقوي و غیره مجامع که در این راستا توان مساعدت را دارند هرچه زود تر باید به کمك ملت رنجدیده ما شتافته و از خطرات احتمالي این مرض مهلك ساري و عامگیر ملت ما را یاري بخشند. اگر جهانیان با وجود داشتن امکانات مادي و بشري و با در نظر داشت حالات صحي هموطنان ما ، باز هم از کمك به ملت مجاهد ما کناره گیري نمایند شاید بعد از این هیچگاه ادعاي بشر دوستي را نخواهند بر زبان آورد و نزد ملت مجاهد ما نیز چنین شعار هایي کدام مفهوم نخواهد داشت .

**در پایان لازم است تا فرد فرد ملت ما و مسؤولین فامیل ها ، امامان مساجد، وکلاي گذر، استادان مدارس و همه افراد جامعه در راه وقایه خود و اعضاي فامیل و حفظ الصحه مناطق شان توجه جدي و لازم نموده و در راه قلع و قمع این مرض مدهش از کشور مسؤولیت شانرا اداء نمایند.**

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Editor: Malyar Kakal
Peshawar ,Tel # : 844331
Postal Add: U.P.O. Box # 1057 Peshawar - Pakistan
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar
Printed by: Dawlati Printing Press